# (A) برخه د مغزلرونکو او میوو د تولید معرفي کول یا پیژندګلو

لومړی لوست یادرس: په راتلونکی کي د مغزلرونکو او میوو د تولید د انکشاف یا پرمختګ په هکله تخنیکونه او تګلاري.

# اصطلاح ګاني

- د میوو د علم متخصص(پومولوجیست)
- د میوو علم یا پوهه(پومولوجي)
- نمیه حاره وني

# د میوو د علم تشریح کول

- د میوه جاتو علم یا پوهه د میوو او مغز لرونکو له تولید، حاصل اخستنې او بازارموندنې سره چې اقتصادي ارزښت ولري، سروکار لري.
- هغه شخص یا کس چې د میوو کښت کوي او یا هم د میوه جاتو د علم عالم یا پوه وي د میوه جاتو د متخصص(پومولوجیست) په نامه سره یادیږي.
- د مغز لرونکو او میوه لرونکو ونو خصوصیات یا ځانګړتیاوي کومي چې راتوکیږي د کرنې د ځمکې کامیابۍ او د میوو کیفیت ته یوه مهمه اشاره کوي.
- الف) دهکانان هغو ورایټیو یا نوعو ته اړتیا لري چې د خاوري او اقلیم د نامناسب وضیعت په وړاندې طاقتوري او مقاومې وي.

4 د میوو او مغز لرونکو څخه یو زیات شمیر داسې شتون لري چې په تغیرشوو اقلیمونو کې راتوکیدلی شي.

- هغه ورایټۍ چې د آفاتونو په وړاندې مقاومي دي او د لوړ حاصل درلودونکي وي هغه د دهکانانو لپاره مهمي وي.
- هغه تحقیقات یا څیړني چې نویو ورایټیو یا نوعو ته اوکشاف یا پرمختګ ورکوي شامل دي په بیوتکنالوجي، تشیوکلچر(د نسجونو کښت یا کرنه)، ماشیني کول او د فضا پروګرام وي.







- افغانستان د میوو د ونو او مغز لرونکو میوو د کښت لپاره کافي حاصل ورکونکو ځمکو یا ساحاتو درلودونکی دی.
  - د میوو د نوعو لوړ ترینه فیصدي د باغدارۍ په ساحو کې په ترتیب سره عبارت دي له انګور، منه، بادام، انار او زردالو څخه.
  - **جنتیکي انجنیری** د بیوتکنالوژۍ (حیاتي یا د ژوندانه تکنالوژی) له یوه نوعه تخنیک یا تګلاري څخه عبارت دی، چې ددي تخنیک په ذریعه د نباتي حجرو په جینونو باندې مداخله یا لاسي کار صورت نیسي.
  - **ب)** جنتیکي انجنیری د پوهې لرونکو یا علم د خاوندانو لپاره دا اجازه ورکوي ترڅو چې غوښتل شوي جینونه د ژوندیو موجوداتو په کروموزمونو باندې منتقل کړي.
  - **ج)** هغه کرهنیزي ځمکې منځته راوړي(طرحه کوي) ترڅو وکولی شي د خاورې او اقلیم د نامناسبو وضیعتونو په وړاندې په ښه توګه مقاومت وکړي.

# د باغدارۍ د مزارعو نقشه



- انګور په افغانستان کي د عمده کرنيزو ميوو له نوعو څخه شميرل کيږي.
  - انګور په افغانستان کي له ۱۵ نه په زياتو ولايتونو کي چي د هيواد د پراخوالی ٤٨ فيصده ځمکه جوړوي، کښت يا کرل کيږي.



- منه ترتول لوي مزرعي په وردګو کې تشکیلوي یا منځته راوړي.



هرکله چي د میوو یا مغزبابو څخه یوه نوی نوعه د ونې تولید کیږي. دهکانان غواړي هرخومره چي زیاته وي په دي ډول چي امکان ولري له هغوي څخه درلودونکی وي.

په دي منظور کولی شي چي د تشیو کلچر(د نسجونو د کښت یا کرنې) له طریقي یا تګلاري څخه استفاده وکړي او په زیاته پیمانې سره نباتات تولید کړي



4 ارزګان د بادامو په تولید کولو کي مشهور دی.

4د محلي یا ځآیي انارو
یو زیات شمیر نوعي
د بلخ، نیمروز او
کاپیسا په ولایتونو کي
شتونو لري.



# د توتانو نوعي په بادغيس کي کښنت کيږي

- **الف)** ماشيني کول د توليداتو سطحې ته زياتوالی ورکوي.
- **ب )** له دي طريقي څخه کيدلی شي چي په کښنت کولو، حاصل په اخستلو، پروسس او د محصولاتو په زخيره يا زيرمه کولو کي استفاده وکړل شي.
- ج) ماشيني کول، د محصول يا حاصل اندازه او ګټورتوب ته زياتوالی ورکوي. ▪



- 4 نیمه حاره وني په عمده ډول سره په ننګرهار ولایت کي راټوکیږي.
- 4 **نیمه حاره وني** په شمول د آنځرو، آنار او زیات شمیر د ستروسو له نوعو څخه په هغه ساحو کي چي ژمي او اوړی یې نسبتاً ګرم وي راټوکیږي.



4 په زيات شمير سره ونې د اوبو د اوبو رسونكو لښتيو په غاړو او دوام كي او يا هم د كورونو په حويليو كي چي د ديوالونو پواسطه احاطه كيږي، كښت يا كرل كيږي. نو په دي بنا د ځمكې دا اندازه چي دا ونې يي پوښوي او يا يي په بر كي نيسي په مشكل سره كولى شي محاسبه كړل شي .



- میوي او مغز لرونکي په زیاتي اندازې سره د محلاتو د اقتصاد په پورته وړلو کي او همدارنګه د ملي اقتصاد په پورته وړلو کي مرسته او کومک کوي.
  - زراعت ۳۱ فیصد د افغانستان اقتصاد تشکیلوي.
    - ۸۰ فیصده د کار قواوي په افغانستان کي په زراعت باندې مصروفي یا اخته دي.
  - په افغانستان کي د دهکانانو زیات شمیر خپل محصولات یا حاصل مارکیټ ته راوړي له دي کبله حمل او نقل ته لاسرسی نه لري او په یوه غوره موقیعت کي له وینا او اوریدو یا مزاکري په واسطه له تجارانو او عمده پلورونکو سره قرار نیسي.

- 4 میوي او مغز لرونکي د افغانستان عمده صادرونکي توکي تشکیلوي او معمولاً منځنیی ختیځ او نړی ته د کشتیو پواسطه انتقالیږي.
  - 4 د میوو عاید یا لاسته راوړنه کومه چي له هیواد څخه صادریږي په کال کي ۱۱۳ میلیونه ډالره ته رسیږي.
  - 4 دا اندازه کولی شي چي په کال کي ۸۰۰ میلیونه ډالرو ته په راتلونکو لس کلونو کي د زده کړي او مناسبي پانګوني له لاري زیاتوالی پیداکړي.

# د هغو ونو نوعي چي له ۲۰۰ هکتارو څخه کمه ساحه په بر کي نیسي



# د هغو ونو نوعي چې له ۲۰۰ هکتارو څخه زیاته ساحه په بر کې نیسي



- د میوو ساتنه او د زخیري یا زیرمه کولو مناسبي تګلاري د دهکانانو لپاره د خرڅلاو امکانات د نموي فصل څخه خارج هم میسر کولی شي.



# مرور یا تکرار او خلاصه یا لنډیز

۱. د میوو علم یا پوهه څه ده او هغه دندي چي د میوه جاتو د رشتي یو عالم یې سرته رسوي کومي دي؟
۲. د میوه جاتو او مغز لرونکو د تولید عمده یا لوی ساحي په افغانستان کي چیرته موقیعت لري او کوم شیان تولید کولی شي؟
۳. د میوو او مغز لرونکو تولید د افغانستان په اقتصاد باندې څخه تاثیر لري؟